د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

علمي معاونیت

دکیفیت دتضمین او لوړاوي آمریت

# د بُست پوهنتون د علمي څېړنو پالیسي

کال: ۱۳۹۹- وږی (سنبله)

## لړلیک

**سریزه** ______ أ

**اوسنی حالت** ______ أ

**ددي موضوع اهمیت او اړتیا** ______ ب

**موخي** ______ ب

عمومي موخي ______ ب

ځانګړي موخي ______ ب

**د بُست پوهنتون دعلمي څیړنو پالیسي** ______ 1

لومړی ماده ______ 1

دوهمه ماده ______ 1

دریمه ماده ______ 1

څلورمه ماده ______ 1

پنځمه ماده ______ 2

شپږمه ماده ______ 2

## سریزه

په پوهنتون کې د علمي څېړنو د میتودولوژۍ سره د ډیرو استادانو نه بدلتیا، د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره د لابراتوار نه شتون، په پوهنتون او پوهنځیو کې د کمیت او کیفیت له پلوه دعملي څېړنو د کچې ټیټوالی او د وخت د غوښتنې سره سم د هیواد او ټولنې د اړتیا وړ علمي څېړنیزو چارو د تنظیم په موخه د علمي څېړنو دغه پالیسي د منلو معیارونو سره سم ترتیب سویده. د پوهې ترلاسه کولو او په ملي کچه د ټولنې د اړتیاوو د رفع کولو او د معیاري علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره د وړتیا لرونکو استادانو او څېړونکو شتون، ددې پالیسۍ اصلي موخه په ځان کې رانغاړي. ددې پالیسۍ پربنسټ استادانو ته د علمي څېړنو د میتودولوژي د زده کړې او څېړنیزو وړتیاوو د لوړولو په موخه هڅه کیږي تر څو له یوې خوا د استادانو علمي او اکاډمیک مسؤلیتونه او مکلفیتونه سرته رسیدلې وي او له بلې خوا د استادانو، پوهنځیو او نورو علمي بنسټونو سره د علمي پرمختګ په برخه کې ددوې د اړیکو په ټینګښت کې مرسته سوې او د پوهنتون د ستراتیژیک پلان موخې ترلاسه سوې وي.

### اوسنی حالت

امنیت، سوله او ثبات د هرې ټولنې د پرمختګ لومړني شرطونه دي. ولې بدبختانه په ګران هیواد کې څلور لسیزې جګړې د نورو خرابیو ترڅنګ، د علمي او تحقیقي فعالیتونو بنیاد ته هم زیات زیان اړولی دی. تیرې یوې نیمې لسیزې په هیواد کې د څلور لسیزې جګړې د ویرانیو د جبران لپاره ښه فرصتونه برابر کړیدي. د زیر بناوو جوړول او پرمختګ، د علمي څېړنو لومړني وده او پرمختګ، د تحصیلي نصاب نوي کول او د پوهنتون پرمختګ هغه څه دي چې زیات کار ورته سویدي چې لا هم بسنه نه کوي.

دا مهال د پوهنتون په کچه د علمي څېړنو آمریت، د علمي څېړنو د اصلي او فرعي کمیتو شتون، په یو شمیر پوهنځیو کې د علمي څېړنو برخه کې د وړتیا لرونکو با تجربه استادانو لرل،د علمي څېړنو د مرکزو لپاره د زیربنایی آسانتیاوو او معلوماتي تکنالوژۍ ته د لاسرسي امکاناتو د برابرولو هوډ لرل، د علمي څېړنو په برخه کې د پوهنتون له قوي ټکو شمیرل کیږي.

د پوهنتون په کچه د علمي څېړنو آمریت، د علمي څېړنو د اصلي او فرعي کمیتو شتون او د علمي څېړنیز مرکز لپاره د استانتیاوو برابرولو هوډ او په ټوله کې علمي څېړنو ته د ټولنې اړتیا ډیر فرصتونه د استادانو په واک کې ورکوي. پداسې حال کې چې د علمي څېړنو د میتودولوژۍ او وړتیاوو سره د زیات شمیر استادانو نه بلدیتا، په اکثره پو هنځیو کې د علمي څېړنو د لابراتواري آسانتیاوو کمی، په یو شمیر پوهنځیو کې د علمي سرچینو کمښت، د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره د

استادانو لږ علاقه او په عادي بودیجه کې د څېړنیزو پروژو د پرمخ بیولو لپاره د مالي سرچینو نه شتون د علمي څېړنو په برخه کې د کمزورتیکو څخه شمیرل کیږي.

### ددې موضوع اهمیت او اړتیا

د لوړو زده کړو په بنسټونو (پوهنتونونو/د لوړو زده کړو مؤسسو) کې علمي څېړنې د ضروري اړتیاوو څخه شمیرل کیږي د علمي  څېړنو وده او پرمختګ د ټولنې د پرمختګ او هوساینې باعث ګرځي، دغه پالیسي په پوهنتون کې د علمي څېړنو دترویج او بنسټیز کیدو په موخه ترتیب او لیکل سویده.

## موخې

### عمومي موخې

1. په څېړنیزو فعالیتونو او پروژو کې د استادانو او محصلینو ښکیلتیا او بوختیا
2. د پوهنتون د استادانو په مټ د معیاري علمي مقالو ترتیبول او په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې د هغوی خپرول.
3. په پوهنتون او پوهنځیو کې د علمي څېړنو تقویت او په ټولنه کې د علم چټکه وده او پر مختګ.

### ځانګړې موخې

1. دعلمي کادر د علمي ترفیعاتو د اجرا په موخه د ترسره سوو  علمي څېړنو په شمول پر سیمه ایزو او نړیوالو معیارونو برابر د هیواد او ټولنې د اړتیا وړ هدفمندو علمي څېړنو  وده او پرمختګ.
2. د علمي او څېړنیزو کارونو د ترسره کولو په منظور  په پوهنتون کې د علمي کادر لپاره د لازمو او اړینو آسانتیاوو برابرول.
3. د ټولنې په هوساینه، مسلکي، اقتصادي او ټولنیزه وده او پرمختګ  کې د علمي څېړنو د پایلو له لاسته راوړنو څخه ګټه اخیستنه.
4. د دولتي او خصوصي علمي ادارو سره د څېړنیزو مرکزونو د څېړنو په برخه کې د اړیکو ټینګښت او همکاري.
5. د پوهنتون د مالي بسیاینې په منظور د علمي څېړنو د ترسره کولو له لیارې د مالي سرچینو تأمینول.

# د بُست پوهنتون دعلمي څېړنو پالیسي

**لومړی ماده**

په پوهنتون کې د علمي څېړنو غښتلیا او پراخه کول.

تر کومه ځایه چې پته ده د علمي څېړنیزو فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره د علمي کادر د غړو څېړنیز مهارتونه مهم رول لري. بنآ د پوهنتون د علمي څېړنو مزکز دې موخې ته د رسیدو په پار د ( څېړنو میتودولوژي، مقالو چمتو کولو، احصایي، نموني اخیستنې، د شمېرو را ټولولو، د څېړنو د راپور چمتو او وړاندې کولو په برخه کې مشخص او اړین پروګرامونه (کنفرانسونه، سمینارونه او ورکشاپونه) په لاره اچوي. البته په ګډه د پوهنځیو ترمنځ د کنفرانسونو دایرول پدې برخه کې د ښو فرصتونو څخه شمېرل کېږي.

**دوهمه ماده**

د استادانو لپاره دعلمي څېړنو په برخه کې د زده کړه ایزو آسانتیاوو برابرول.

ددې هیلې یا غوښتنې د پرځای کولو لپاره لاندې کړنې ترسره کېږي:

1. په لومړي ګام کې د پو هنتون او پوهنځیو د علمي څېړنیزو کمیټو او علمي کادر ځینو غړو ته چې په داوطلبانه توګه غواړي څېړنې ترسره کړي د علمي څېړنو په برخه کې د زده کړې لنډ مهاله کورسونه دایرېږي.
2. په دوهم ګام کې د ځینو استادانو لپاره په پوهنځیو کې د علمي څېړنو د زده کړې کورسونه او ورکشاپونه دایرېږي
3. هغه استادان چې په دغه کورسونو کې یادې زده کړې ترلاسه کوي هغه پخپلو پوهنځیو کې پلې کوي.

**دریمه ماده**

تر کومه ځایه چې استادان د تدریس ترڅنګ د علمي څېړنو په ترسره کولو هم مکلف دي، یادې څېړنې یوازې د استادانو د علمي ترفیعاتو لپاره نه بلکی کیداي سي چې د پوهنتون په څېړنیزو پروژو کې هم شاملې سي، بنأ د یادو علمي څېړنو له درکه د په لاس ته راغلو پیسو نه د استادانو د حق الزحمې په برابرولو، د پوهنځیو او دیپارټمنټونو د اکاډمیک وضعیت د ښه والي لپاره هم ګټه اخیستل کیداي سي.

**څلورمه ماده** د علمي څېړنو له پایلو نه د ګټې اخیستنې آسانتیاووې برابرول.

لاندې موارد د پورته ذکر سوو هیلو (غوښتنو) د لاسته راوړلو لپاره په نظر کې نیول کېږي:

1. په پوهنتون کې د علمي څېړنو ټولې اصلي او فرعي کمیټې به د علمي څېړنیز مرکز له لارې د وزارت خونو او نورو اړونده دولتي او خصوصي ادارو سره علمي اړیکې ټینګې کړي.
2. د علمي څېړنو پایلې د ویبسایټ، علمي مجلو او د وزارت خونو او نورو اړونده دولتي او خصوصي ادارو سره د ګډو علمي او مسلکي کنفرانسونو له لارې خپرې او وړاندې سي.
3. پوهنتون به د انټرنیټ، کتابونو او نورو علمي سرچینو لازمي آسانتیاوې برابرې کړي.
4. د پوهنتو ن د استادانو په مټ د علمي مقالو چمتو کول او په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې د هغوی نشرول.

**پنځمه ماده**

د پوهنتون، لوړو زده کړواو نورو علمي بنسټونو سره د علمي کادر د غړو ترمنځ د اړیکو ټینګول.
پدي منظور د پوهنځیو دعلمي څیړنوکمیټي د علمی تجربو د تبادلې په پار د علمي څیړنو په برخه کی د علمي او مسلکي اړیکود ټینګولو په منظور، جلسي، کنفرانسونه، او ګډ علمي سمینارونه دایروي.

**شپږمه ماده**

د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي ستونزو دحل په منظور په پوهنتون کي د علمي څیړنو ترسره کول او په لاره اچول د علومو د ودي او د ټولني د هوسایني او رفاه لپاره زمنیه برابروي. په همدي موخه د علومو د ودي او پرمختګ او ټولني د هوسایني او رفاه په منظور په بیلابیلو ساحو کي د علمي څیړنو غځول اړین دي.

د بُست پوهنتون د علمي څیړنو پالیسي په (۶)مادو کې د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي اصلي کمېټې د ( ۰۱ / ۰۶ / ۱۳۹۹) نېټې په ( ۶۷) ګڼه غونډه کي تایید او د تصویب په موخه د پوهنتون علمي شورا ته وړاندي سوه.

د بُست پوهنتون د علمي څیړنو پالیسي د پوهنتون د علمي شورا د ( ۰۵ / ۰۶ / ۱۳۹۹) نېټې په (۸۲) ګڼه غونډه کي تایید او تصویب سوه.